**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوښتنې ځواب**

**د فکر ډولونه**

(ژباړه)

**پوښتنه**

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

د «اسلامي شخصيت» کتاب لومړي جلد په «نن ورځ مفسرينو ته د امت اړتيا» سرليک په نهمه او لسمه کرښه (ليکه) کې ليکلي: «... د يوه فکري کتاب په توګه چې مستنير فکر ولري...»؛ ايا دلته د «مستنير» کليمه سمه ده؟

**ځواب**

وعليکم السلام و رحمة الله و برکاته

«مستنير» کليمه سمه ده؛ ځکه چې فکر په درې ډوله دی: سطحي، عميق او مستنير. د دې جزيات د «تفکير» کتاب د عربي نسخې په ٨٦-٩٢ (انګليسي ٧٥-٨٠ او پښتو ٩٣-٩٩) مخونو کې موندلی شئ. دلته يې يوه برخه درته را اخلم:

«تفکير کېدی شي سطحي، عميق او يا مستنير وي. سطحي تفکير د عامو وګړو تفکير دی، عميق تفکير د علماوو تفکير دی او مستنير تفکير د رهبرانو او دغه راز د عامو خلکو او علماوو له ډلې د مستنيرو کسانو تفکير دی. سطحي تفکير دماغ ته د خالص واقعيت له لېږد څخه عبارت دی، پرته د نورو مواردو له تعقيب څخه چې له دغه واقعيت سره تړاو لري. د سطحي تفکير په جريان کې هېڅ هڅه نه کېږي چې واقعيت په دقيق ډول درک او احساس شي. همدارنګه دماغ ته له لېږد وروسته هېڅ هڅه نه کېږي چې له واقعيت سره اړوند نور معلومات په لاس راوړل شي. يعنې په سطحي تفکير کې واقعيت د لومړنيو معلوماتو په وسيله تفسير او تعبير کېږي. دا ډول تفکير د سطحي قضاوت او پايلې لامل کېږي، چې په هغو افرادو او ډلو کې ليدل کېږي چې د منحطو افکارو خاوندان او يا بې سواده دي او يا هم له ثقافت څخه لرې هوښيار خلک دي...

عمیق تفکیر هغه تفکیر دی چې فرد په هغه کې هڅه کوي چې د مسایلو ژورو ته لاسرسی پیدا کړي. د مسایلو عمق تر هغه وخته نشي تر لاسه کولی چې د واقعیت په درک او احساس، اړوندو معلوماتو او له واقعیت سره د هغه په قوي تړاو کې ځانګړی ځواک ونه لري. یعنې ژور تفکیر، د څیزونو مجرد احساس، لومړني معلومات او لومړني ارتباط –لکه څنګه چې په سطحي تفکیر کې پېښېږي- نه مني، بلکې شخص د واقعیت د احساس د تکرار له لارې هڅه کوي چې واقعیت په سمه بڼه درک کړي. دا چاره ممکنه ده چې د تجربو او یا هم د احساس د تکرار په وسیله ترسره شي. په ورته وخت کې شخص په دې ډول تفکیر کې هڅه کوي چې د واقعیت له احساس وروسته د لومړنیو معلوماتو سربېره، نور معلومات چې له یاد واقعیت سره تړاو لري تر لاسه کړي. تر هغه وروسته شخص په دې ډول تفکیر کې بیا هم هڅه کوي چې د معلوماتو او تکرار شوي واقعیت او د هغه د کتنو ترمنځ تړاو د دې تکرارونو له لارې پیاوړی کړي. په دغه ترتیب انسان له دغه ډول احساس او د واقعیت په اړه د معلوماتو او د دوی ترمنځ د تړاو څخه په ګټې اخیستنې ژورو افکارو ته رسېدی شي، له دې په پام کې نیولو پرته چې یاد افکار حقایق دي که نه؟ د همدې کړنلارې تکرار او هغه عادت کول داسې څه دي چې په پای کې عمیق فکر تولیدوي. په بله وینا؛ عمیق تفکیر د واقعیت پر خالص احساس، لومړنیو معلوماتو او له واقعیت سره د دغو لومړنیو معلوماتو پر ربط بسنه نه کوي او غواړي چې د تفکیر دویم پړاو ته ورسېږي. د تفکیر دا ډول هماغه د پوهانو او نورو مفکرینو تفکیر ګڼل کېږي، مهمه نه ده چې عمیق افراد باید هرو مرو لوستي وي. د وینا پایله دا چې عمیق تفکیر یعنې ژور احساس، ژور معلومات او ژور ارتباط.

مستنیر تفکیر؛ داسې تفکیر دی چې مفکر یو بل مورد هم پر تفکیر ور زیاتوي او هغه د هغو څیزونو په اړه تفکیر دی چې واقعیت یې چاپېر کړی، ترڅو سمې پایلې تر لاسه کړي. په بله وینا؛ عمیق تفکیر یعنې ژوروالی د تفکیر په نفس کې او مستنیر تفکیر یعنې ژوروالی د تفکیر په نفس او ژوروالی په هغو مواردو کې یاد واقعیت په بر کې نیسي او دا کړنلاره د یوه ټاکلي هدف د ترلاسه کولو یعنې یوې سمې او سالمې پایلې ته د رسېدو لپاره پکارېږي. نو په واقعیت کې هر مستنیر فکر عمیق فکر دی، خو هر عمیق فکر مستنیر فکر نه دی. له سره ممکنه نه ده چې مستنیر فکر دې د سطحي فکر پایله وي. د بېلګې په توګه، هغه پوهان چې د اتوم، کیمیا یا د څیزونو د پیدایښت د څرنګوالي او یا د قوانینو او احکامو په باب څېړنه او مطالعه کوي؛ له ژور تفکیر څخه ګټه اخلي او هر یو په خپل ټاکلي ډګر کې، په تفکیر کې ژوروالی لري، ځکه له دې پرته عالي پایلو ته رسېدنه ممکنه نه ده. خو هغوی د غیر علمي څېړنو په چارو کې، هېڅکله له مستنیر تفکیر څخه کار نه دی اخیستی.

همدا دلیل دی چې پوهان د اتوم د څېړنې او مطالعې په حال کې وینو، خو په ورته وخت کې دوی وینو چې د لرګي یوې ټوټې یعنې صلیب ته عبادت کوي. په داسې حال کې چې کم مستنیر تفکیر انسان دې دقیقې او سمې پایلې ته رسوي چې د لرګي یاده ټوټه نه انسان ته زیان رسولی شي او نه هم ګټه. له بل لوري، قاضیان د قوانینو د مطالعې او څېړنې په حال کې وینو، خو په ورته مهال ګورو چې کشیش ته تسلیم دي او له هغه غواړي چې ګناهونه یې وبښي او جنت ته یې دننه کړي. خو که پورتني دواړې ډلې پوهان، په مستنیر فکر تفکیر وکړي، بېشکه چې نه لرګي ته تسلیمېږي او نه هم کشیش ته. که څه هم یاد پوهان د اتوم او قوانینو په مطالعه کې په ژوره بڼه تفکیر کوي، خو په نورو مواردو کې له ټیټ تفکیره کار اخلي. بل ټکی دا چې که انسان په ژور تفکیر عادت شي، دی په هره چاره کې په ځانګړې توګه هغه چارې چې د ژوند، کایناتو او انسان په اړه د یوه ټولیز لیدلوري په څېر پېچلي دي؛ په ژوره توګه فکر کوي. خو په ده کې د مستنیر تفکیر نه شتون لامل کېږي چې همداسې په سطحي او حتی ټیټ او ناچیز تفکیر عادت شي. نو د ویښتیا او نهضت لپاره یوازې عمیق تفکیر بسنه نه کوي، بلکې باید مستنیر تفکیر وي چې انسان په طرز تفکر کې ارتقا تر لاسه کړي او په پایله کې د ده د ویښتیا لامل شي.» **پای.**

که نور معلومات غواړئ، دغه «تفکیر» کتاب ته مراجعه وکړئ. والله معک!

**ستاسو ورور**

**عطاء بن خلیل ابو الرشتة**

**۱۴۴۵هـ.ق د شعبان ۵مه**

**۲۰۲۴م کال د فبروري ۱۵مه**